اخترمحمد یوسفی

# د روسیې او اوکراین کړکیچ څرنګوالی

زموږ ډیری افغان لیکوالان او روشنفکرانو پدی وروستیو ورځو کښی بیله څخه چی ددی دواړو هیوادو پر تاریخی سوابقو باندی ځیرنی وکړی او حقایق ومومی نو د ځانه څه هر څه وایی او یا هر څه لیکی. د افغان لیکوالان او روشنفکرانو د روسی او اوکراین پر کړکیچ باندی بحث او د خبرو لوی مشکل دادی، چی افغانان پخپله دځان یو غښتلی، متحد ، مستقل هیواد نلری، چی د خپل هیواد پر راتلونکی او امنیت باندی پاملرنه وکړی.

افغان لیکوالان او روشنفکران و خپلو شخصی ګټو ته ډیر ګوری، د خپل هیواد ملی ګټو ته ژمن ندی. په افغانستان کښی خپل هیوادوال مو د لوږی څخه میری، مګر موږ خپل یو ډیر شمیر افغان لیکوالان او روشنفکران د نورو هیوادو په چاروباندی فکر کوی، په نورو هیواد کښی باتوران لټوی.

افغان لیکوالان او روشنفکرانو پخپلو منځو کښی سره یا بیځایه چاپلوسی کوی، اویا یو د بل په تخریب باندی اخته دی. افغان لیکوالان او روشنفکران و خپل تاریخی رسالت ته پاملرنه نلری، د خپل هیواد ملی امنیت او بیا روغونی ته مسؤلیت پر غاړه نه اخلی چی په ګډه سره یو ځای په ګډه کار وکړی د خپل د پاره مستقل او غښتلی دولت جوړ کړی. کله پاکستانیان او یا کله ایرانیان افغان خاوره ونیسی، په افغانستان کښی ملی، وطنپال دولت هم نشته چی د هیواد د ملی امنیت او ارضی تمامیت اراضی څخه دفاع وکړی. که چیری د افغانستان په هکله د هیواد د ننه او یا د هیواد د باندی ومطبوعات نشرات په ځیر سره وګورو بیله جعلی توصیف او بیا بیځایه تخریب بل ګټور مطالب نه شو پیدا کولای.

د روسانو اوکراینیانو د ۱۹۹۱ میلادی د شوروی د هیوادونو د آزادی پر وخت خپلمنځی پریکړی شوی وی، چی د ځنیو هیوادو لخوا چی یو یی اوکراین دی، عملی نشول، ډیری خونړی پیښی د دوی په منځ کښی راغلی دی چی د روسیې او د دوی د کامنویلټ هیوادو امنیت ګواښ بلل شویدی. بیله د اسنادو د کتلو او د حقیقت میندولو څخه په آنی توګه د روسانو اوکراینیانو د جګړی د اورونو اود باروتوپه دودو کښی د باتور او نا باتور د نومیالی نومول عادلانه قضاوت ندی.
د پښتو د ژبی یو په زړه پوری متل دی چی وایی "د یوه لاسه څخه ټک نخیږی".
کچیری د شووروی اتحاد او امریکا تر منځ د ۱۹۸۰ میلادی د دویمی نیمایی څخه وروسته د ختیځی اوروپا څخه د شوروی اتحاد نظامی د قواو ایستلو قراردادو ته، د ختیځ او لودیز دواړو المان د یووالی او پریکړو ته وکتل شی، د پخوانی شوروی اتحاد ډیری اتومی زیرمی په قزاقستان او اوکراین کښی پراته دی، چی د ۱۹۹۱ کال د پریکړو پر اساس، یو لړ شروطونه اینسودل شوی چی نوموړی هیوادنو حق نلری چی د ناټو غړیتوب تر لاس کړی، تر څو چی روسیې، بلاروس د کامنویلت هیوادونه ته د امنیتی خطر نوی. روسیه ته لوی امنیتی ګواښ دادی چی اوکراین د ناټو د غړو هیوادو سره ګډه پوله لری. د ناټو د راتلونکی په هکله هغه وخت ویل شوی، چی ناټو به په راتلونکی کښی نظامی پیمان نه بلکه دغړو هیوادو یو سیاسی ټولنه پاته شی.



د شووروی اتحاد او امریکا دهغو توافقات پر بنسټ باندی ناټو او امریکا دا حق نلری چی داوکراین په کورنی چارو کښی مداخله وکړی، او یا کراین ته سلاګانی ورکړی، اویا اوکراین د ناټو وغړیتوب ته وهڅوی.

**د ښاغلي ستولټنبرګ په وینا، په ختیځې اروپا کې د ۴۰۰۰ نویو سرتېرو ځای پرځای کولو هدف پارول نه بلکې "مخنیوی" دی.**
**ښاغلي ستولټنبرګ وویل، د اوسنۍ ترېنګلتیا سرببره د ناټو پوځي ټرون روسی ې ته د ګواښ په سترګه نه ګوري. د سړې جګړې تر پایته رسېدو وروسته د روسیې او لویدیځو قدرتونو ترمنځ اړیکې اوسمهال ډېرې ترېنګلې دي.**



From left to right: Chamberlain, Daladier, Hitler, Mussolini, and Ciano pictured before signing the Munich Agreement, which gave the Czechoslovak border areas to Germany.

داوکراین اوسنی دولت په اوکراین کښی د روسی ژبه په هکله غیر قانونی بندیز لګولی دی، پداسی حال کښی چی داوکراین په ختیځو برخو کښی د هیواد یو لوی اکثریت روسی نژاده دی او په روسی ژبه بری لیک او لوست کوی، د اوکراینیان په ګډون اکثر خلک په اوکراین کښی په روسی ژبه باندی خبری کوی، د اوکراین د دولت دا تصمیم د روسی ژبی په هکله غیر قانونی بندیز لګول یو فاشیستی عمل دی،

د روسیی داورتودوکس د چرچ مشر الکسی ویل دی جی داوکراین پوځ شیطانان دی.

اوسنی روسیه روسیه د ۱۹۹۰ میلادی کلونو روسیه نده چی میخائل ګرباچوف د روسیی د عسکرو او مامورینو ته معاش هم نشوای ورکولای، روسیه اوس تر شپږسوه ځلوییښت میلیارډ دالره بالا د بانکونو زیرمی لری، روسیه خپل نظامی په نوی سلاګانو باندی مجهز کړیدی.

.